مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۳۰مه | د ۲۰۲۱ د جون ۲۰مه | ۷۳۵مه ګڼه

# د جګړو شدت او په امنیتي سکټور کې بدلونونه؛

## د جګړو شدت ولسمشر غني اړ کړ چې د امنیتي سکټور په رهبرۍ کې پراخ بدلونونه راولي



۳

د امنیتي ځواکونو د ناکاره او کمزورې رهبرۍ دوام
۲ مخ

در مورد کمک‌های بشردوستانه روسیه به افغانستان
۳ مخ

حکومت زمونږ او نور کاروانه د تقدیر دي
۳ مخ

## عمران خان: په افغانستان کې د عملیاتو لپاره د امریکا اډو ته اجازه نه ورکوو

پاکستان یو ځل بیا په خپله خاوره کې امریکایي ځواکونو ته د پوځي اډو د ورکړې په اړه غبرګون ښودلی دی. د یاد هېواد لومړي وزیر عمران خان تازه، له اکسیوز امریکایي ټلوېزیون سره په مرکې کې ویلي، په افغانستان کې د ترهګرۍ ضد عملیاتو لپاره به امریکا ته د پاکستان په خاوره کې د پوځي اډو د جوړېدو اجازه ور نه کړي.

نوموړي ویلي: «هېڅکله نه، دا اجازه به ور نه کړو. په افغانستان کې د عملیاتو لپاره به هېڅ وخت پوځي اډه ور نه کړل شي او نه به هم په دې برخه کې د پاکستان خاوره وکارول شي.»

خو د عمران خان له څرګندونو وړاندې د امریکا دفاع وزیر لوېډ اسټن او د دغه هېواد د ملي امنیت سلاکار جیک سولیوان ویلي وو، د دې لپاره چې په راتلونکي کې د ترهګرۍ ګواښ ته پام وشي، په سیمه کې یې د پاتې کېدو په اړه له پاکستاني چارواکو سره د دوی په خاوره کې د پوځي اډو د لرلو پر موضوع خبرې کړې. په پاکستان کې د امریکایي ځواکونو لپاره د پوځي اډو د جوړېدو په اړه مخکې طالبانو هم غبرګون ښودلی او دا یې تاریخي تېروتنه بللې چې ناوړه او پاروونکې پایلې به ولري.

پاکستان داسې مهال د ترهګرۍ د ځپلو لپاره په خپله خاوره کې د امریکا له پوځي اډو سره مخالفت ښیي، چې افغان حکومت بیا بیا پاکستان له ترهګرۍ پر ملاتړ تورن کړی، خو یاد هېواد بیا دا ادعاوې ردوي.

## عبدالله: د جګړې له لارې واک ته د رسېدو لپاره د طالبانو محاسبه ناسمه ده



۲ مخ

## پوهنتون

۴ مخ

### فجرستان د لوړو زده کړو موسسه

یادې موسسې د خپلو محصلینو د علمي سویې لوړولو په موخه پر هېواد دننه سربېره له څېنو بهرنیو پوهنتونونو سره هم تفاهم لیکونه لاسلیک کړي دي.





## د کلیو پراختیا وزارت: په تېرو شپږو میاشتو کې د اوبو رسولو ۱۰۰ پروژې بشپړې شوي



د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت وایي، چې د روان ۲۰۲۱ز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یې د هېواد په ۲۵ ولایتونو کې د څښاک د اوبو سل پروژې تطبیق کړې چې له کبله یې د نږدې ۱۷۹ زره کسانو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې دي.

د یاد وزارت د مسوولینو په وینا، د اوبو رسولو د یادو پروژو د تطبیق په پایله کې د بادغیس، بغلان، بلخ، فاریاب، غور، هلمند، هرات، جوزجان، خوست، کونړ، ننګرهار، پکتیکا، پروان، سمنګان، سرپل، تخار، روزګان او زابل ولایتونو په بېلابېلو کلیو کې کې د اوبو رسولو ٦٧ لمریزې شبکې؛ د بدخشان، بغلان، بلخ، دایکنډي، غور، کابل، خوست، نورستان، پکتیکا، روزګان او زابل ولایتونو په مختلفو کلیو کې د اوبو رسولو ۱۳ کښښي شبکې؛ د دایکنډي، فراه، فاریاب، کابل، ننګرهار او وردګ ولایتونو په بېلابېلو کلیو کې د څښاک د اوبو ۵۹ څاګانې چې لاسي بمبې هم پرې نصب شوي او د بدخشان، بادغیس، فاریاب، هلمند، جوزجان او سرپل ولایتونو په مختلفو کلیو کې ۴۲ زېرمې جوړې شوې دي.

## وزارت صحت عامه: شمار مجموعی جان باخته‌گان ویروس کرونا به ۴ هزار و ۲۲ تن رسید



وزارت صحت‌عامه از ثبت ۱ هزار و ۳۸۴ رویداد تازه مثبت ویروس کرونا و ۹۲ رویداد فوتی از اثر این ویروس خبر داد. بر بنیاد آمارهای این وزارت، در این مدت، ۴۹۷ بیمار ویروس کرونا، بهبود یافته اند. با این آمارها، شمار مجموعی بیماران کووید نزده در افغانستان به ۱۰۱ هزار و ۹۰٦ تن افزایش یافت. از این میان، ۴ هزار و ۲۲ بیمار جان باخته‌اند.


آمارهایی که از سوی وزارت صحت‌عامه نشر شده‌اند، نشان می‌دهند که آمار روزانۀ جان‌باخته‌گان بیماران کوویدنزده در کشور به‌گونۀ بی‌پیشنه افزایش یافته‌است. با افزایش مرگ‌های برخاسته از بیماری کووید نزده، تقاضا برای واکسین ویروس کرونا نیز بیشتر شده.

داکتران می‌گویند که روزانه صدها تن پشت دروازه‌های مرکزهای تطبیق واکسین کرونا در کابل صف می‌کشند و در هر مرکز روزانه ۳۰۰ تن که بیشتر شان افراد بالاتر از سن چهل سال اند، واکسین کرونا دریافت می‌کنند.

پس از رسیدن ۷۰۰هزار دوز واکسین کرونا از چین به کشور، روند تطبیق دور دوم واکسین ویروس کرونا پنج‌روز پیش در هفده مرکز در کابل آغاز شد. بدلیل رجوع بیش از حد مردم به مرکزهای واکسین در کابل، بسیاری از این مرکزها توانایی تطبیق واکسین به تمامی مراجعه کننده‌گان را ندارند.

شهروندان کشور می‌گویند که هم زمان با افزایش شمار بیماران کووید نزده، کمبود آکسیجن نیز به یک چالش جدی مبدل شده و به این دلیل شمار زیادی از خانواده ها بیماران کووید نزده را در خانه ها بستری و درمان می‌کنند.

تعمیر فروشی



یک تعمیر تجارتی به مساحت {316.25 متر مربع} واقع مارکیت میوه {ناحیه 4، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

## سرلیکنه

### د امنيتي ځواکونو د ناکاره او کمزورې رهبرۍ دوام

د ولسمشر د حکم پر اساس بسم الله محمدي د ملي دفاع وزارت د سرپرست او نوماند وزير په توګه، عبدالستار ميرزکوال د کورنيو چارو وزارت د سرپرست او نوماند وزير په توګه او ولي محمد احمدزی د لوی درستيز په توګه ټاکل شوي دي. تر دې څو ورځې وړاندې د کورنيو چارو وزارت او ملي امنيت رياست لپاره هم نوي مرستيالان ټاکل شوي وو.

دا بدلونونه په داسې حال کې راځي چې په دې وروستيو کې هره ورځ ولسوالۍ سقوط کېږي او يوازې پرون د طالبانو لخوا د اتو ولسواليو د سقوط خبرونه ورکړل شوي وو، خو چارواکو د دغو ټولو ولسواليو سقوط نه و منلی. چارواکو د ټولو ولسواليو سقوط هم تکتيکي په شاتګ او امنيتي راز بللی و. ډېری خلک نيوکه کوي چې د امنيتي ځواکونو د ناسمې رهبرۍ له امله نه يوازې دا چې ولسوالۍ سقوط کېږي، بلکې امنيتي ځواکونو ته پراخه مرګ ژوبله هم اوړي. له همدې امله پر حکومت نيوکې دي چې بې کفايته او ناکاره کسان يې د امنيتي ځواکونو د رهبرۍ پر څوکيو ګومارلي دي.

د امنيتي ځواکونو رهبري له پيله د حکومت د دوو شريکو ټيمونو تر منځ وېشل شوې وه او د سکاټ مېلر خوښه خو پکې حتمي وه، خو هېڅکله هم دوی پر يو ثابت وېش توافق ونه کړ، بلکې تل په دې اړه لانجه وه. دا چاره د دې سبب شوه چې د امنيتي ځواکونو رهبري له څو لويو ستونزو سره مخ شي. لومړی دا چې بې کفايته، نامسلکي، کمزوري او سمتي او ټيمي ګټو ته ژمن کسان د ځواکونو رهبرۍ ته راغلل چې ورسره نه يوازې دا چې د امنيتي ځواکونو د کمزورۍ لامل شول، بلکې مخالفين يې لا پياوړي کړل. دويمه ستونزه دا وه چې د امنيتي ځواکونو رهبرۍ ته ډېر کسان راغلل او ولاړل چې په دې سره يوه چارواکي هم پر کار پوره تمرکز ونه کړ، کله به چې يو چارواکی له کار سره بلد شو، پر ستونزو به يې تمرکز کاوه او خپل پلانونه به يې عملي کول، نو په نيمايي کې به له دندې لرې شو او پر ځای به يې بل کس راغی. درېيمه ستونزه دا وه چې امنيتي اداري تر ډېره د سرپرستانو له لوري اداره شوې چې سرپرستان هم کم واک لري او هم ولسي جرګې ته ځواب ويونکي نه دي.

اوس هم چې کوم بدلونونه راغلي، دا کيسه له بده لا بدتره شوه. اوس هم د ملي دفاع او کورنيو چارو وزارتونه داسې کسانو ته وسپارل شول چې که څه هم يو څه نظامي تجربه لري، خو نه مسلکي زده کړې لري او نه هم په دې سخت وخت کې د امنيتي ځواکونو د رهبرۍ وړتيا لري. د دې پر ځای چې په کارپوه، مسلکي، ژمن او پياوړي جنرالان راوستل شي، واک داسې کمزورو کسانو ته وسپارل شو. له بده اړخه د امنيتي ځواکونو د مرستيالۍ لپاره ټاکل شوي کسان هم ملکي کسان دي، چې هېڅ نظامي تجربه نه لري او هم کمزوري کسان دي.

پر دې اساس امنيتي ځواکونه لا هم د کمزورو او نامسلکي کسانو لخوا اداره کېږي، چې نه به د ولسواليو د روان سقوط مخه ونيولی شي او نه به هم د امنيتي ځواکونو لپاره کوم بل داسې مهم کار وکړي، چې دا ځواکونه پياوړي شي او د خلکو هيلې پوره کړي.

# چين او افغانستان د کرونا وبا پر وړاندې ګډه مبارزه کوي او د طب او روغتيا د ګډ برخليک ټولنه جوړوي

**◄ ليکنه: په افغانستان کې د چين لوی سفير وانګ يو**

د چين د ولسي جمهوريت د دولت رييس شي جين پينګ د مې په ۲۱مه نېټه د روغتيا نړيوالې سرمشريزې غونډې ته وربلل شوی و. نوموړي له بېجينګ څخه په انلاين ډول پکې ګډون وکړ او "د انسان د روغتيا د ګډ برخليک ټولنې د رامنځته کولو لپاره بايد يو ځای کار وکړو" تر عنوان لاندې يې يوه مهمه وينا وکړه. رييس شي جين پينګ په خپلو خبرو کې له نړيوالو سره د کوويډ-۱۹ وبا پر وړاندې رواني مبارزې کې د چين تجربې شريکې کړې او د دې وبا د مخنيوي په پار يې داسې ګټور وړانديزونه او نظريې وړاندې کړې، چې چين په عمل کې ترې کار اخيستی او د يادې وبا پر وړاندې رواني مبارزې کې د بېلابېلو هيوادونو له اوسنيو اړتياوو سره سمون خوري. د غونډې ګډونوالو د نوموړي وړانديزونه او نظريې وستايلې.

رييس شي جين پينګ په خپلو خبرو کې دې ته اشاره وکړه، چې د پېړۍ تر ټولو سخته وبا لا هم په ګرده نړۍ کې په خپرېدو ده او ويروس په مکرر ډول بدلون مومي. هغه د وبا پر وړاندې رواني مبارزې کې د بريا ګټلو او اقتصادي پرمختګ د بيا اعاده کولو لپاره پنځه فقره‌ييز وړانديز وکړ:

لومړی؛ مونږ دې د خلکو ژوند ته لومړيتوب ورکړو. موږ بايد د خلکو په اتکا د وبا پر وړاندې مبارزه وکړو. تجربو دا ثابته کړې، چې مونږ بايد د دغسې ناروغيو د بشپړ له منځه وړلو لپاره د خلکو ژوند او روغتيا ته لومړيتوب ورکړو او تر وسې دې هڅې وکړو، هيڅ رنځور بايد له پامه ونه غورځوو او د هر کس د ژوند ارزښت او وقار ته بايد درناوی ولرو.

دويم؛ موږ دې علمي تګلارې او جامع او سيستماتيک تدبيرونه ونيسو. نړيواله ټولنه دې د دې نوې ساري ناروغۍ پر وړاندې د ساينسي روحيې هڅولو ته دوام ورکړي، ساينسي چلند دې وساتي او د ساينس لارې چارې او قوانين دې تعقيب کړي.

په ګرده نړۍ کې اوس د کوويډ-۱۹ پر وړاندې لوی جنګ روان دی او اړ يوو، چې په سيستماتيک ډول يې ځواب ووايو. د بېلګې په ډول، مونږ بايد د درملو او غير طبي تدبيرونو اقدامات او دايمي او عاجل تدبيرونه همغږي کړو او د وبا مخنيوی او اقتصادي او ټولنيز پرمختګ همغږي کړو.

درېيم؛ موږ دې پر يووالي او همکارۍ ټينګار وکړو. کوويډ-۱۹ وبا يو ځل بيا موږ ته دا وښوده، چې انسانان په يوه ټولنه کې ګډ ژوند کوي او ټول ګډ برخليک لري او په ګډه له وياړ او ذلت سره مخامخ کيږي.

موږ بايد د دغه شان ساري ناروغيو د پراختيا پر وړاندې د بشر د روغتيا د ګډې ټولنې رويه تعقيب او په يووالي او ګډې همکارۍ بايد شته ستونزې حل کړو او د ناوړه سياست او پروپګانډا خپرولو پر وړاندې بايد کلک چلند وکړو.

څلورم؛ موږ دې پر عدالت او معقوليت ټينګار ولرو او د بېلابېلو ډلو تر منځ د "معافيت تشه" دې له منځه يوسو. رييس شي جين پينګ نړيوالې ټولنې ته کابو يو کال مخکې وړانديز کړی، چې واکسينونه دې نړيوال عامه محصول وګرځي، خو اوس داسې ښکاري چې نړيوالو ته د واکسين ناعادلانه ويش خورا د پام وړ مسئله ګرځېدلې ده.

موږ بايد "د واکسين نېشنلېزم" پرېږدو، د توليد او توزيع ستونزه يې بايد حل کړو، واکسين ته د مخ پر ودې هيوادونو لاسرسی او وړتيا بايد لوړه کړو او دوی ته بايد لازمي او بيړني واکسينونه چمتو کړو. د روغتيا نړيوال سازمان بايد د "کوويد-۱۹ واکسين د تطبيق پلان" چټک کړي.

پنځم؛ موږ بايد په عين وخت کې د "مخ او ريښې" ستونزې حل کړو او د اداري سيستم بشپړ کړو. د کوويډ-۱۹ ساري ناروغۍ د نړيوالې روغتيا د اداري لپاره يوه ازموينه ده. موږ بايد د ملګرو ملتونو او روغتيا نړيوال سازمان رول پياوړی او د ناروغيو د مخنيوي او کنټرول نړيوال سيستم ته وده ورکړو، څو په راتلونکي کې د دغه شان ناروغيو مخنيوی وکړو. نړيواله ټولنه دې د پرمختيايي هيوادونو نظرونه واوري، پراخې مشورې او ګډې همکارۍ دې ورسره وکړي او د دوی معقولې غوښتنې دې ځواب او ښې منعکس کړي. چين د دې بې ساري وبا پر وړاندې مبارزه کې د ډېرو هيوادونو ملاتړ او مرستې تر لاسه کړې او خپله يې هم په لويه کچه نړيوالې بشري کړنې تر سره کړې او د نړۍ د اقتصادي او اجتماعي پرمختګ لپاره يې د دغې ناروغۍ اغېزمنو پرمختيايي هيوادونو ته دوه ميلیارده ډالره مرسته برابره کړې، له ۱۵۰ زياتو هيوادونو او ۱۳ نړيوالو سازمانونو ته يې د ناروغۍ ضد مادي مرستې برابرې کړې او نړۍ ته يې کابو ۲۸۰ ميلیارده ماسکونه، ۳.۴ ميلیارده محافظتي جامې او ۴ ميلیارده د ازمويني کيټونه ورکړي دي. چين د کوويډ-۱۹ ضد مبارزې او د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ د بيا عادي کېدو لپاره اعلان کړی، چې پرمختيايي هېوادونو ته به په راتلونکو دريو کلونو کې ۳ ميلیارده ډالره مرسته برابره کړي. چين به د واکسين تصدۍ وهڅوي، چې پرمختيايي هېوادونو ته تخنيکونه ورکړي او د توليد همکاري ورسره وکړي. چين د کوويډ-۱۹ ضد واکسين د پوهنې مالکيت حق له معافيت څخه ملاتړ کوي او د سوداګرۍ نړيوال سازمان په ګډون له اړوندو نړيوالو سازمانونو څخه هم غواړي، چې دغه شان پرېکړې وکړي. چين له نړيوالې ټولنې غوښتي، چې د واکسين د همکارۍ نړيوال فورم جوړ کړي، څو ګډونوال د واکسين د توليد او ځېړنې په برخه کې او هم په نړۍ کې د واکسينونو د منصفانه او معقولې توزيع په اړه بحثونه وکړي.

چين او افغانستان عنعنوي دوستان او ښه ګاونډيان دي او د وبا ضد په روانه مبارزه کې يې د نړيوالې ټولنې لپاره د همکارۍ ښه نمونه جوړه کړې ده. افغانستان اوسمهال د ويروس د بدلې بڼې ښکار شوی او د ناروغۍ حالت پکې مخ په سختېدو دی. چينايان به د تل په څېر له افغانانو سره ودرېږي، يو بل سره به مرستې وکړي او د دې ناروغۍ پر وړاندې به ګډه مبارزه وکړي. د چين، افغانستان، پاکستان، نيپال، سريلانکا او بنګله ديش بهرنيو وزيرانو د اپريل په ۲۷مه په ويډيويي کنفرانس کې د کرونا وبا ضد د همکاريو د ژورتيا او ګډو هلو ځلو په اړه مهمې موافقې او نتيجې تر لاسه کړې دي. چين د افغانستان د بيړنيو اړتياوو د پوره کولو لپاره ۷۰۰ زره ډوزه واکسينونه چمتو کړي او ژر به يې ورولېږي.

چين به د رييس شي جين پينګ د يادې وينا په لارښوونې له افغانستان سره د کرونا وبا پر وړاندې روانه مبارزه کې همکارۍ پياوړې کړي او تر وسې پورې به له دغه هيواد سره مرستو ته دوام ورکړي، څو افغانستان ډېر ژر کوويډ-۱۹ ويروس ته ماتې ورکړي او په خپل هېواد کې سالم او ثابت پرمختګ رامنځته کړي. چين غواړي د افغانستان په ګډون، د نړۍ د ټولو هيوادونو له خلکو سره يو ځای د انساني روغتيا د ګډې ټولنې جوړولو ته ادامه ورکړي، څو يادې وبا ته ماتې او په ګډه يو روښانه راتلونکی رامنځته کړي.

# عبدالله: د جګړې له لارې واک ته د رسېدو لپاره د طالبانو محاسبه ناسمه ده



د ملي مصالحې عالي شورا مشر عبدالله عبدالله وايي، که طالبان له پوځي لارې د پرمختګ او واک ته د رسېدو فکر وي، دا محاسبه يې ناسمه ده.

عبدالله چې د انتاليا ډيپلوماسي فورم کې د ګډون په موخه ترکيې ته تللی، له اسوشيټېډ پرېس خبري اژانس سره په مرکې کې ويلي، طالبان ممکن سياسي حل لارې ته لېوالتيا ونه لري. ده ويلي: «طالبان ممکن ځان پياوړی وګڼي، لږ تر لږه د دوی ځينې غړي په دې باور دي چې کولای شي د بهرنيو ځواکونو له وتلو د پوځي لارې لپاره ګټې واخلي. ولې هغوی په خبرو کې له جديته کار نه اخلي؟»

په ورته مهال طالبان بيا دا تورونه ردوي چې ګواکې دوی له پوځي لارې د بريا هڅې کوي. د طالبانو د قطر د دفتر وياند محمد نعيم وايي، دوی له کلونو پخوا د خبرو له لارې د افغانستان د ستونزې پر هوارې ټينګار کوي. نعيم تور پورې کړ چې د دولت لوری خبرو ته صادقه نه دی او په خبره يې، له اختر وروسته دوی خبرو ته چمتو دي، خو د دولت مرکچي پلاوی نه دی بشپړ شوی.

دولت او طالبان داسې مهال يو بل د سولې په بهير کې پر نه جديت تورنوي، چې د بهرنيو ځواکونو د وتلو له پيل سره تاوتريخوالی زيات شوی دی. که څه هم د طالبانو او امريکا د دوحې د تړون يوه برخه د تاوتريخوالي کمښت و، خو د تاوتريخوالي کچه زياته شوې او په وروستيو اونيو کې طالبان د يو شمېر ولسواليو مرکزونه نيولي دي.

خو د ملي مصالحې عالي شورا مشر عبدالله عبدالله وايي، د افغانستان روانه کشاله پوځي حل نه لري. نوموړی زياتوي: «که هغوی فکر کوي چې له پوځي لارې بريا ته رسېږي، دا به د طالبانو له خوا ډېره ناسمه محاسبه وي. دا تکراروم چې د جګړې دوام به هېڅ ګټيالی ونه لري.»

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې د روان کال د سپټمبر تر ۱۱مې به ټول بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي، خو د دغو ځواکونو له وتلو سره دا اندېښنې پيدا شوې چې ښايي امنيتي وضعيت به نور هم خراب شي.

# در مورد کمک‌های بشردوستانه روسیه به افغانستان

فدراسیون روسیه بـه حمایت خـود از جمهوری اسلامی افغانستان در دوران دشـوار بـرای مـردم ایـن کشـور یعنی در اوضـاع مغلـق بـشری ناشـی از جنگ‌ها و گسـترش مریضـی COVID-19 ادامه میدهد.

در آغازیـن روزهای شـیوع ویـروس کرونا زمانـی کـه ایـن مشـکل هنـوز مـورد مطالعـه کـم قـرار گرفتـه بـود و جامعـه جهانـی از تجـارب در امـر مبـارزه بایـن مریضـی برخـوردار نگردیده بود، روسـیه بـه عنـوان یکـی از نخسـتین کشـورها دسـت کمـک را بسـوی مـردم دوسـت افغانسـتان دراز کـرد. اولیـن پارتـی ادویه‌جـات طبـی و تسـت‌های آزمایـش بـرای شناسـایی ویـروس در ۲ جـون سـال ۲۰۲۰ میـلادی از روسـیه به کابل مواصلـت نمـود.

انتقـال بعـدی محمولـه‌هـای کمـک بـشری کـه بـرای مقابلـه بـا عفونـت ویـروس کرونـا اختصـاص یافتـه بودنـد، در ۱۰ نوامـبر سـال ۲۰۲۰ میـلادی انجـام شـد. ایـن انتقـال بنابـر تقاضـای ولسـی جرگـه و وزارت صحـت جمهـوری اسـلامی افغانسـتان بـا مسـاعدت دومـای دولتـی (ولسـی جرگـه)، وزارت حـالات اضطـراری روسـیه و اداره فدرال تفتیـش ایـن کشـور در عرصـه دفـاع از حقـوق مـصرف کننـدگان و رفـاه انسـان سـازماندهی گردیـده بـود.

مشـکل کمبـود مـواد غذایـی در افغانسـتان توجـه خـاص مسـکو را بخـود جلـب کـرده بـود. بایـن ارتبـاط، دو مراسـم بـرای تسـلیم دهـی بیشـتر از ۶۰۰ تـن مـواد غذایـی بـه جانـب افغانسـتان بتاریخ‌های ۶ دسـمبر سـال ۲۰۲۰ میـلادی و ۲۶ اپریـل سـال ۲۰۲۱ میـلادی در شـهرک حیرتـان در حضـور محـترم یفگینـی کولیـش، جنـرال قونسـل روسـیه در شـهر مزارشریـف و کارمنـدان دفـتر افغانسـتان پروگـرام جهانـی غـذای سـازمان ملـل متحـد برگـزار گردیـده بودنـد. ایـن کمـک بشری در بیـن خانواده‌هـای توزیـع گردیـد کـه شـدیداً بـه آن نیـاز داشـتند.

چنـد روز پیـش، بتاریـخ ۱۵ جـون سـال روان میـلادی محمولـه‌هـای کمـک بـشری روسـیه از طریـق سـازمان صحـی جهـان در میـدان هوایـی بیـن المللـی کابـل به مقامـات افغان تسـلیم داده شـد. آقـای الیکسـی پیریویزیـف، معـاون سـفارت روسـیه در کابـل، داکتر شـفیق میـرزازاده، معیـن وزارت صحـت افغانسـتان و لـو داپـن، مسـئول دفـتر سـازمان صحـی جهـان در کابـل در مراسـم تحویلدهی کمـک بشری شرکت کـرده بودنـد.

مـاژول ها و بسـته‌های طبـی بـرای طیف وسـیع در برنامه‌هـای کاربردی، از جمله بـرای عرضـه کمک‌هـای اضطـراری، عاجـل و جراحـی و همچنان برای مبارزه بـا امـراض سـاری بـه وزن مجموعی ۳۹ تـن ذریعـه یـک پـرواز خـاص بـه کابـل انتقـال داده شـده بودنـد.

ایـن محمولـه‌هـای کمـک بـشری کـه بـه جانـب افغانسـتان تسـلیم داده شـده انـد، در بخـش تـداوی امـراض سـاری و همچنـان توانبخشـی بعـد از آسـیب‌ها و زخم‌هـا بـه افغانهـا کمـک مینماینـد.

بنابـر ارزیابی‌هـای سـازمان صحـی جهـان، الـی یـک میلیـون شـهروند افغانسـتان میتواننـد کمک‌هـای لازم را از ایـن وسـایل و تجهیـزات بدسـت بیاورنـد.

# حکومت زموږ او نور کارونه د تقدير دي

لیکنه: عبدالوحید وحید

څومره بدنصيبـه قانـع ملت او څومره بختـور بـې مسـووليته مـشران لـرو. څـوک پرديـو رابانـدې مسـلط کـړي دي او يـا هـم داسـې خلـک رابانـدې مسـلط دي، چې ډېر انسـانان يـې وژلي وي. پـه يوويشـتمه پيـړۍ کـې هـم فکـر کـوو چـې حکومـت کـول د زوررو حـق دی. د ملـت دنـده حکـم منـل او د حاکـم د بـدو اعمالـو مخالفـت د تمـرد پـه کټه‌گـورۍ کـې راځـي.

حاکمـه ډلـه د ژونـد تـر پايـه مـشران وي. کلـه چـې مـړه شي، نـو زامـن يـې پـه اوږو سـپروو، لاسـونه ورتـه پرځـوو. هيـڅ حاکـم پـه مشـورتي نظـام، مـلي مشـارکت، د ولس د غږ پـه اورېدو عـادت نـه دی. د ملـت د لـوږې او د ژونـد د نـورو اړتيـاوو پـه هکلـه ځان مسـوول نـه ګڼي. دا هـر څـه د خـدای لخـوا د تقديـر مسـئله ګڼـي، خـو پـه ملت بانـدې د خپل حکـم منل او سرچينـو بانـدې ټولـواک کيـدل د خداوند متعـال لخـوا ورتـه سـپارل شـوی داسـې حـق ګڼي، چې د واک د سـلبولو او کمولو غوښـتنه يـې بغـاوت ګڼـل کېږي.

لـه بـده مرغـه چې پـه دربار کـې د سـلاکارانو پـه توګـه ناسـت افـراد هـم د جابـر حاکـم ټولو کړنـو تـه د ديـن او يـا هـم کـوم بل منل شـوي مـدني قانـون پـه چوکاټ کـې د مشروعيـت دلايـل وړانـدې کـوي.

کـه ولس د حاکـم د ظلـم د زغملـو حوصلـه لـه لاسـه ورکـوي او پـر وړانـدې يې دريږي، نو حاکـم ټـولې جـبراً د ملت پـه سـتوني کـې د حـق غوښـتلو غـږ د تـل لپاره بنـدوي.

پـه تـيرو څـو لسـيزو کـې مـو د کمونسـتانو د «کـور کالي ډوډۍ» د مجاهدينـو «راغـی اسـلامي نظام ورونو مبارک مو شـه» د طالبانو «د دوزخ لايقه طالبان ولې ځوروې» او اوسـنی ديموکـراسي «د ښـځو او ځوانانـو حقونـه» « وطنـه مـور يـې زمونـږ» او داسـې نـور مختلف نظامونـه لـه مختلفـو شـعارونو سره وازمويـل او مختلـف مخونـه مـو وليدل. د هغـوی تر منځ د ظلمونـو او لـه ارزښـتونو سره د ژمنـې د کچـې لـه توپيرونـو سره سره هيـڅ اړخ هـم د ولـسي ارمانونـو د تحقق لپاره د بـاور وړ ګامونه نه دي پورتـه کړي.

شـل کالـه وشـول چـې د امريـکا پـه خوښـه کسـان د حاکمانـو پـه توګـه راوسـتل شـول. هغـه نـاروا وې چـې وشـوې تفصيـل تـه اړتيا نه لري. د ديموکراسـۍ پـه تـازه دوره کې د اشرف غنـي لـه مشرتابـه لاندې څـو اشـخاص چـې د ځينـو هويـت هم نامعلومـه دی، له غـربي فکر سره پـه پراشـوټي توګـه را وارد شـول، زمونږ مـلي دودنـه يـې مـات کـړل، مـلي ارزښـتونه يـې له پښـو لانـدې کـړل، اخلاقـي کودونه يې ونـړول او زمونـږ سرچينـې يـې تـاړاک کـړې.

البتـه هغـه لسـګونه زره افغـان ځوانـان چـې د ترهګـرۍ پـر ضـد پـردۍ جګـړه کـې له خـاورو لانـدې شـول، د خـاورو خـوراک شـول، کونډې يـې خيراتونـو ټولولو تـه اړ شـوې او يتيمان يې وږي ويـده کيـږي. پـه لسـګونو زره هغـه نـور ځوانـان هـم وينـو چې هـره ورځ د فقـر، لوږې، ناامنـۍ او بېـکارۍ لـه املـه هيـواد پرېږدي او د مـرګ لـه لارې ځانونـه د يـوې ګولـې ډوډۍ مونـدلـو لپـاره پرديـو هيوادونـو ته تنبتـي.

اوس داسـې ښـکاري چـې د ډيموکراسـۍ پـه تـوره وهـل شـوي طالبـان پـه دويـم ځـل پـر هيـواد بانـدې بشـپړ تسـلط غـواړي او نـور ورتـه د غوښـن رول ورکولو لپـاره تياري نيسـي. طالبانـو تـه د لوبـې د ګټلـو لپـاره د فسـاد لـه املـه لـه حکومـت څخـه ناهيلـې شـوی ولس، ځـورول شـوي احـزاب، مايوسـه شـوي اقـوام او د ارګ د ناخوالـو لـه املـه د وطـن پرسـته افغـاني کدرونـو کتارونـه د خامـو توکـو په توګه پـه لاس ورغـلي دي. اوس نـو د دغـو پرګنـو ملاتـړ تـر لاسـه کـول د طالبانـو پـه وړتيـا، ايمـاني فراسـت او ژورليـد پـورې اړه لـري چې پـه افغانسـتان کـې يـې د اسـلامي نظـام پـه پلـوي او پـه راتلونکي کـې د خپل سـياسي اړخ د پياوړتيـا پـه موخـه وکـاروي.

زه منـم د دغـه نظـام چارواکـو پـه لومـړي سر کـې لـه طالبانـو سره ظلـم وکـړ. پـه کورونـو کـې يـې ونيـول، امريـکا تـه يـې د څـو پيسـو پـه مقابـل کـې وسـپارل، هيـواد پريښـودلو تـه اړ کـړل شـول او داسـې نـور ډېـر وحشـتونه وو چـې انـکار ورڅخـه نـشي کيـدای؛ خـو اوس د انتقـام وخـت نـه دی. کابـل تـه ننوتـل او يا هـم د ارګ نيـول کيـدای شي اسـانه وي، خـو دلتـه حکومـت کـول خـورا سـخت کار دی. د طالبانـو د اوسـني وضعيـت د ارزولـو وړتيـاوې او علمـي کچـې لـه خپـل ولس او نـړۍ سره د هغـوی چلـن او ذهنـي ځانګړتيـاوو تـه پـه کتو خـورا زياتـې نيمګړتياوې لـري. د خپلـو افرادو پـه روزنـه او مديريـت کـې سـتونزې لـري. د هغـوی افـراد اوس هـم ولس ځـوروي، خلـک کـډو بارولـو ته مجبـوروي او د هغـوی پـه جګړو کـې د ملکـي تلفاتـو کچـه لـوړه شـوې ده.

پـه افغانسـتان کـې خـورا زيـات خلـک او کدرونـه شـته چـې پـه اسـلامي نظـام غيرمتزلـزل بـاور لـري، پـه ټولنيـز عدالـت او د خپلـو ولسـونو پـه ملاتـړ ولاړ اسـلامي نظـام يـې د څـو لسـيزو د مبـارزې موخـه جـوړوي. پـه اسـلامي نظـام بانـدې د افغانانـو تـر منـځ اختـلاف نشـته. اختـلاف پـه واک بانـدې دی. سـتونزه دا ده چـې طالبـان د واک پـه انحصار او پـه نـورو بانـدې د باور د نشـتون پـه لاعلاجه رنـځ اختـه دي. دغه تشـه بايد هغـوی په خپله ډکـه کـړي، کـه داسـې نـه وي، نـو دا وړۍ نـه شـړۍ کيـږي.

لـه حکومتـي چارواکو سره د پرتلـې وړ نه دي، خـو بيـا هـم د هغـوی پـه ليکـو کـې لـه فسـاد څخـه ورهاخـوا د حکومتـي ودانيـو د نړولـو، سـوځولو، وژلـو او خرابولـو ذهنيـت پـه پراخـه کچـه شـته. طالبـان د خپلو وسـله‌والو په لاس د وژل شـويو ملکـي خلکـو وژل نـشي توجيـه کولای.

پـه ځينـو مـواردو کـې شـواهد شـته چـې د طالبانـو دلګـۍ مـشران مفتيـان هـم دي، قومندانـان هـم دي، قاضيـان هـم دي او څارنـوال هـم دي. د هغـوی اړونـد چارواکـي د سـؤکونو اړولـو، پلونـو او ودانيـو نړولـو پـه وحشـت کې ښـکېل دي. په پکتيا کې د نيمه جـوړ شـوي روغتـون او د فـراه ولايـت انـاردرې ولسـوالۍ نـړول يـې مشـت نمونـه خـروار ده. څرګنـده خـبره ده چـې پـه دغـه ډول مـواردو کـې د مسـووليت نـه منل پـه وحشـتونو باندې ځـان غلـی نيـول طالبانـو تـه برائـت نـشي ورکـولای.

طالب مشرانو!

ملـت پـه نظـام کـې سـتاسو نشـتون محسوسـوي، سـتاسو پـه رول سـترګې نـه پټـوي، سـتاسو نشـتون کـې نظام نيمګـړی دی، لـه تاسـو سره سـوله زمونـږ د ټولنيـز پرمختـګ لپاره د اکسـجن حيثيـت لري؛ مګر دا هـم واقعيت دی چې د ولسـواليو او ولايتونو نيـول او د حکومـت کولـو تـر منـځ زيـات توپير شـته. دلتـه سـتاسو پـه ګډون نـورو هـم کابل نيـولی او د حکومـت کولـو ناکامـه هڅـه يـې کـړې ده. اوس خـو لا د حکومـت کولـو لپـاره ډېـرو داسـې وړتيـاوو تـه اړتيـا شـته چې تاسـو يـې تجربـه نه لـرئ. تر ټولـو مهمه خـبره دا ده چې سـتاسو پـر وړانـدې ډېـر پياوړي کورني او بهرنـي حساسـيتونه شـته او تاسـو د دغـو حساسـيتونو د ګراف راښـکته کولـو لپاره هيڅ نـه دي کـړي. سپارښـتنه مـو دا ده چـې پـه خپلـه د نظام ممکنـه پاشـلتيا خطرناک ګام مه پورتـه کـوئ او د نـورو لخـوا د نظـام د پاشـلتيا د هڅـو مخـه هـم ونيسـئ. د سـولې نوښـتګر شـئ، د سـتونزې د حـل لپـاره پـه زړه پـورې وړانديزونـه وکـړئ. افغانانـو او نـړۍ تـه ثابتـه کړئ چې تاسـو لـه جګړو ورهاخـوا د مديريت، سياسـت، نوښـت او لـه نـړۍ سره د امـن پـه فضـا کـې د اوسـېدو وړتيـا هـم لـرئ.

لـه نـورو سياسـي ګوندونـو، اقوامـو، اقشـارو او اصنافـو سره د ګـډ کار او ګـډ کـمال کولـو لپـاره ځانونـه تيـار کـړئ. پـه ټاکنيز نظام کې سـمون راتلل اړين دي؛ خو د ملت د مسـتقيم ووټ پـر بنسـټ ولاړ نظام د زعامـت د سـتونزو يوازينـۍ حللاره ده. کـه ولـس د حاکـم پـه اطاعـت مکلـف دی، نـو حاکمـه ډلـه هـم د خپـل ولـس د ټولـو سـتونزو د حـل مسـووليت لـري. د سياسـي مخالفـت او د بيـان آزادۍ دود تـه وده ورکـړئ. مخالفـت تـه د دښـمنۍ پـه کټه‌ګـورۍ کـې ځـای مـه ورکـوئ.

انتقـاد او نيوکـې د اشـتباهاتو د مخنيـوي او خپلـو سـهوو تـه د متوجـه کيـدو او سـمولو لپـاره اړينـې وګڼـئ. پـه مخالـف اړخ بانـدې د فتـوا ورکولـو پـر ځـای هغـوی تـه پـه مسـائلو بانـدې د اګاه خلکـو پـه څېـر غـوږ ونيسـئ. که مـو خـبره خوښـه نشـوه، نـو هيڅـوک يـې هـم پـه زور دربانـدې نـه منـي او هغـوی تـه ګواښ مـه کـوئ. لـه ولـس د خپـل ځـان خادمـان مه جـوړوئ؛ بلکـې ځانونـه د ولـس خادمـان جوړ کـړئ. پـه سـياسي مخالفينو بانـدې له شرعي ادرسـونو څخـه فتـوا ورکولو مخکـې د هغوی د مخالفـت لاملونـه درک کـړئ.

# د جګړو شدت او په امنيتي سکټور کې بدلونونه؛

## د جګړو شدت ولسمشر غني اړ کړ چې د امنيتي سکټور په رهبرۍ کې پراخ بدلونونه راولي

پـه هېـواد کـې د جګـړو شـدت او د ولسـواليو پرلـه پسـې سـقوط ولسـمشر غنـي اړ کـړ چـې د امنيتـي سـکټور پـه رهـبرۍ کـې بدلونونـه راولي. پـه دغـو تـازه بدلونونـو کې ولسـمشر غني د ملي دفـاع وزيـر اسـدالله خالـد، د کورنيـو چارو وزارت سرپرست حيات الله حيات او لـوی درسـتيز ياسـين ضيـا لـه دنـدو ګوښـه کـړي او پر ځـای يې نوي کسـان د سرپرسـتانو پـه توګـه ګومـارلي دي.

د ولسـمشر د حکـم لـه مخې، بسـم الله محمـدي د دفـاع وزارت او عبدالسـتار ميرزکـوال د کورنيـو چـارو وزارت د سرپرسـتانو پـه توګـه او دغـه راز ولي محمـد احمدزی د ياسـين ضيـا پر ځـای د لـوی درسـتيز پـه توګـه ګومـارل شـوی دی.

د امنيتـي سـکټور پـه رهـبرۍ کـې دا بدلونونـه داسـې مهـال دي، چې په دې وروسـتيو اونيـو کـې پـه پرلـه پسـې ډول يـو شـمېر ولسـوالۍ د طالبانـو لاس تـه لوېـدلي او د افغـان ځواکونـو د ډېـرې مـرګ ژوبلـې او لـه طالبانـو سره د ځينـو امنيتـي ځواکونـو د يـو ځـای کېـدو راپورونـه هـم خپرېـږي. طالبانـو ادعـا کـړې چـې يوازې پـه تېـرو ۲۴ سـاعتونو کـې يـې د هېـواد پـه ګـوټ ګـوټ کـې اووه ولسـوالۍ نيولـې دي. د سـمنګان د دره صـوف پاييـن، د تخـار بهـارک، د جوزجـان مرديـان، د فاريـاب خواجـه سـبزپوش، د پکتيـا ميرزکـه، د نيمـروز خـاشرود او د فـراه پشـت‌کوه هغـه اووه ولسـوالۍ دي چـې طالبـان يـې پـه تېـرو ۲۴ سـاعتونو کـې د نيولـو ادعـا کـوي. بلخـوا امنيتـي ادارو کـه څـه هـم د طالبانـو د تـازه ادعـاوو پـه اړه څـه نـه دي، ويـلي، خـو ملي دفاع وزارت د يوې اعلاميـې پـه خپرولـو سره ويـلي چـې پـه تېـرو ۲۴ سـاعتونو کـې يـې د هېـواد پـه بېلابېلـو برخـو کـې لسـګونو طالبانـو تـه مـرګ ژوبلـه اړولـې ده.

لـه دې سره جوخـت پـه مـلي شـورا کـې د هلمنـد ولايـت ځينـو اسـتازو او د دغـه ولايـت ځوانانـو تېـره ورځ د «هلمنـد وژغـورئ» پـه نـوم ناسـته کـې وويـل چـې د دغـه ولايـت د ګرشـک ولسـوالۍ سـقوط دوی سخت اندېښمن کـړي دي. د ولسـي جرګـې منـشي او د هلمنـد ولايت اسـتازي کريم اتـل وويل، د پوځـي تجهيزاتـو د نـه رسـېدلو او غيـر مسـلکي ګومارنـو لـه املـه پـه هلمنـد او نـورو ولايتونـو کـې امنيتي وضعيـت ډېر ترينګلـې شـوی دی. نومـوړی وايـي: «مرکـزي حکومـت د پوځـي افـرادو پـه ګومارنـو کـې ناغېـړي کوي، بـې تجربې خلـک ګومـاري، لـه دې سره امنيتـي او دفاعـي ځواکونـو تـه هـم پـر وخـت تجهيـزات نـه رسـېږي، لـه همـدې املـه هلمنـد او ځينـې نـور ولايتونه له سـقوط سره مـخ شـوي دي.»

بلخوا د ملي دفاع وزارت مرسـتيال وياند فـواد امـان وايي چې چې افغان امنيتي او دفاعـي ځواکونـه بـه ډېـر ژر هغـه سـيمې بېرتـه ونيـسي، چـې د طالبانـو لاس تـه لوېدلي دي. نومـوړی وايي: «له بـده مرغه د ناامنيـو او تاوتريخوالي کچه پراخـه شـوې، خـو وضعيت به دغه شـان دوام ونـه کـړي، افغان امنيتـي او دفاعي ځواکونه مشـخص پروګرامونـه لري، کوم ځايونـه چـې طالبانـو نيـولي او ترهګـر فعاليتونـه پکـې تـرسره کـوي، ځواکونـه بـه يـې بېرتـه ونيـسي.» پـه امنيتـي سـکټور کـې دا بدلونونـه داسـې مهـال دي، چـې پـه تېـرو دوو مياشـتو کـې د جګـړو لـه کبلـه نـږدې ۴۰ ولسـوالۍ د طالبانـو لاس تـه لوېدلي، خـو ملي دفاع وزارت وايـي چـې امنيتـي ځواکونو له يو شـمېر ولسـواليو او نظامـي مرکزونـو نـه تاکتيکـي شـاتګ کـړی او ډېـر ژر بـه دا سـيمې بېرتـه ونيـسي.


## د کتـاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW,ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړن: د اکسوس د ژباړې بورډ

### اوومه برخه

**د اکهند بهارت (ستر هند) کنفدراسیون دکتورین**




منموهن سېنگ يو ځل ويلي و، چې سرحدونه له سره په وينو نشو کښلی. دا يوه سياسي جمله ده، خو دومره کره نه ده، ځکه پولې تل په وينو له سره کښل شوې دي.
دولت: نه، له سره به په وينو ونه کښل شي. که تاسې د مشرف او منموهن سېنگ په څېر د سولې په خبرو بوخت اوسئ، نو د دغو پولو له سره کول به اسانه نه وي.
دوراني: ځکه دوی يوه هم تاريخي حس نه درلود. پولې تل کښل شوې دي، له سره کښل شوې او بيا په کې بدلون راغلی دی. که غواړئ سولې ته ورسېږئ، نو دا سوله يوازې هماغه مهال شونې ده، چې تاسې د سرحداتو په بيا کښل کېدو هوکړه وکړئ.
زما لپاره مهم ټکی دا دی، چې ولې خلک په اکاډميک او تيوريک ډول په دې اړه بحث ته چمتو نه دي؟ که موږ نن دا کار وکړ، سبا به پر يوه حقيقت بدل شي. که وضعيت دومره ډېر نازک وي، چې دا په حقيقت بدلېدای شي، نو زه مې خپله قضيه بېرته اخلم.
دولت: که په واقعبينانه ډول ورته وگورئ، نو که کشمير له لاسه ووځي د هند په نورو برخو کې به هم د مسلمانانو ژوند سخت شي. دا داسې حقيقت دی، چې بلاخره ورسره مخامخ کېږئ. وار له مخه يو نيم په ځينو مسايلو کې وايي، چې پاکستان ته يې ولېږئ. که کشمير پاکستان ته ورکړل شي او يا خپلواک اعلان شي، گڼ خلک به وايي، دا نور بار او بستره هم پسې ور ولېږئ.
دوراني: د مسلمانانو د فلاکت(بدبختۍ) په اړه دا بحثونه شته، خو زه فکر نه کوم، چې دوی دې د وضعيت برمته شي. بيه يې کشميريان پرې کوي.
دولت: دا يې خواشينونکې برخه ده. کشميريان چمتو نه دي، چې د کشمير بيه پرې کړي او نه د هند د نورو برخو مسلمانان دغه کار ته چمتو دي. ما د هند له مسلمانانو سره په دې موضوع خبرې کړې دي؛ دوی استدلال کوي، چې تاسې په بېلابېلو مسايلو غږېدلی شئ، خو په کشمير به خبرې نه کوئ. هغوی مو ورونه دي.
دوراني: راځئ بحث لږ بلې خوا بوځو او په ازاد پښتونستان وغږېږو. په پاکستان کې د افغانستان دوه برابره پښتانه اوسي. د يوه خپلواک پښتونستان د رامنځته کېدو چانس کم دی، ځکه ټول افغانان به وغواړي چې د افغانستان د اوسنيو سرحداتو په احاطه کې پاتې شي، زموږ د هېواد پښتانه به په خپل ځای پاتې شي. که دا کار وهم شي، نو دا به د پاکستان يو ايالت پاتې شي، چې پېښور يا کندهار به يې مرکز وي. زه تل په دې باور يم، چې د افغانستان ـ پاکستان د کنفدراسيون چانس د هند ـ پاکستان هغه په پرتله ډېر دی او دا نظريه له پنځوسو کلونو راهيسې موجوده ده.
دولت: ددې ټولو پايله به څه وي؟ ستر هند، هند نه، که د کشمير لپاره ازادي؟
دوراني: پايله هېڅکله د تل لپاره نه وي او دا د پرانستي ذهن له ساتلو سره مرسته کوي. اډواني مو په ياد دی، چې د کراچۍ د سفر (۲۰۰۵) پر مهال يې سوله ييز غږ پورته کړی و. دا ډول چارې زمينه برابرولی شي. که څه هم د هغه گوند له همدې کبله له ځوږ سره مخ شو، دا بېله موضوع ده، خو دا زموږ لپاره يوه ښه بېلگه کېدای شي، چې تعقيب يې کړو.
سېنها: مشخصاً يې څه ويلي و؟
دوراني: د همکارۍ په اړه يې ډېر څه ونه ويل، خو د جناح په اړه يې له ستاينې ډک کلمات وکارول. د جناح په اړه د جسونت سېنگ کتاب ددې لامل شو، چې هغه په خپل گوند کې بې اعتباره شي. مهمه دا ده، دغو کسانو ښې او مناسبې نظريې درلودې. موږ بايد دې ته منتظر نه شو، چې له کومه ځايه دې پيل شي؟
کېدای شي بشر دوستانه ستونزو ته له رسېدنې يې پيل کړو، چې ډېر غبرگونونه به ونه لري. مهمه دا ده، چې د دغه کار لپاره د دريځ بدلون ته هم اړتيا نشته.
دولت: زه له مشرف سره په بشپړ ډول موافق يم. په يوه مانا دا د مشرف د څلورو ټکو لرونکي فورمول يوه کمزورې بڼه او د همکارۍ او اړيکو لپاره ښه لاره ده.
سېنها: مشرف اوس يو تښتېدلی سړی دی.
دولت: ضرور نه ده، چې د هغه نظريه دې هم تښتېدلی وي.
عزيز صېب په دې ورځو کې نه ښکاري، هغه بلکل بل ډول ليدلوری لري. زما په ياد دي، هغه چې کله په نوي ډيلي کې لوی کمېشنر و، څو ځله مو د کشمير په تړاو خبرې اترې وکړې.
**دوام لري...**

# فجرستان د لوړو زده کړو موسسه

◀ حمیدالله حمیدي




فجرستان د لوړو زده کړو موسسه چې په تخار ولايت کې موقعيت لري، په ۱۳۹۱ کال يې په دغه ولايت کې پر فعالت پيل کړی دی. د فجرستان د لوړو زده کو موسسې د علمي معاون ښاغلي سميع رحماني په وينا، دوی په لومړيو کې دوه پوهنځي حقوق او سياسي علوم او اقتصاد درلودل، خو څه موده وروسته يې له لوړو زده کړو وزارت څخه د انجنيرۍ پوهنځي جواز هم تر لاسه کړ، چې اوسمهال د دريو پوهنځيو په چوکاټ کې خپلې درسي چارې پر مخ وړي. د ښاغلي رحماني په وينا، دوی په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کې د قضا او څارنوالۍ او اداري او ډيپلوماسۍ ډيپارټمنټونه، په اقتصاد پوهنځي کې د اداري او تجارت ډيپارټمنټ او په انجنيرۍ پوهنځي کې د سېول ډيپارټمنټ لري.

د ښاغلي سميع رحماني په خبره، دوی د فجرستان د لوړو زده کړو موسسه کې ټول شاوخوا ۱۵۰۰ محصلين لري، چې له دې ډلې يې له ۳۰ تر ۴۰ سلنې پورې ښځينه محصليني او پاتې نور يې نارينه محصلين تشکيلوي.

ښاغلي رحماني همدا راز وويل، دوی له پيله تر دې دمه په دريو دورو کې محصلين فارغ او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي، چې له دې ډلې ډېری فارغ محصلين يې په دولتي يا خصوصي ادارو کې پر دندو بوخت دي.

د فجرستان د لوړو زده کړو موسسې علمي معاون ښاغلي سميع رحماني زياته کړه، دا چې د هېواد او هېوادوالو وضعيت او حالت ورځ تر بلې د بدلون په حال کې دی، نو د دوی د نوو جذب کېدونکو محصلينو شمېر هم هر کال توپير کوي، داسې چې هر کال په اوسط ډول له ۲۰۰ تر ۳۰۰ پورې نوي محصلين جذبوي او د لوړو زده کړو اسانتياوې ورته برابروي.

ښاغلي رحماني وويل، دوی خپلو محصلينو ته په مختلفو کټه‌گوريو کې تخفيف وړاندې کوي، داسې چې خپلو هغو محصلينو ته چې د نظامي برخې کارکوونکي دي، په خپل سميستروار فيس کې له ۴۰ تر ۵۰ سلنې تخفيف ورکوي. د نوموړي په وينا، د ډېرو نورو هغو ادارو کارکوونکو ته چې فجرستان د لوړو زده کړو موسسې تفاهم ليکونه ورسره لاسليک کړي دي او همدا راز د ټولنې د مختلفو قشرونو او کمزوري اقتصادي او مالي وضعيت لرونکو محصلينو ته د لوړو زده کړو وزارت قوانينو او د موسسې مالي امکاناتو ته په کتو په مختلفه کچه تخفيف وړاندې کوي.

ښاغلي سميع رحماني په خپلو خبرو کې وويل، دوی د ورځې په دريو درسي ټايمونو کې تدريسي چارې پر مخ وړي، چې يوه يې سهارنۍ دوره ده چې د سهار له شپږ نيمو پيل تر نهه بجو دوام کوي. دويمه دوره يې له نهو بجو پيل او د غرمې تر دوولسو بجو دوام کوي او درېيمه هغه يې هم ماښامنۍ دوره ده چې د ماسپښين له دريو بجو پيل او د ماښام تر شپږو بجو دوام کوي.

د فجرستان د لوړو زده کړو موسسې ياد مسوول زياته کړه، دوی په موسسه کې د خپلو محصلينو لپاره مجهز کتابتون لري چې ډېری د تخصصي او د تحصيلي رشتو اړوند کتابونه پکې دي. د نوموړي په وينا، پر فزيکي کتابتون سربېره دوی الکترونيکي کتابتون هم لري، چې ډېر کتابونه پکې ځای پرځای شوي دي او محصلين کولای شي وخت ناوخت مراجعه ورته وکړي، مطالعه پکې وکړي او خپل د اړتيا وړ مالومات ترې تر لاسه کړي.

ښاغلي سميع رحماني همدا راز وويل، دوی په هېواد کې دننه او له هېواده د باندې له ځينو خصوصي او دولتي پوهنتونونو سره ښکې علمي او اکاډميکې اړيکې لري. له هغې ډلې په تخار ولايت کې له څلورو خصوصي پوهنتونونو او همدارنگه د تخار ولايت له دولتي پوهنتون سره د متقابلو علمي اړيکو يادونه کولی شي، چې پر بنسټ يې يو له بل سره علمي تجربې او لاسته راوړنې شريکوي او له هغوی سره د شوو تفاهم ليکونو پر اساس ډېر علمي سمينارونه او ورکشاپونه دايروي او همدارنگه له هېواده د باندې د ايران هېواد له خوارزمي پوهنتون سره د متقابلو اړيکو تفاهم ليک لري، چې پر اساس يې خپل محصلين د لوړو زده کړو او ظرفيت د ارتقاع په موخه هلته استوي او هغوی ورته د لوړو زده کړو اسانتياوې برابروي.ښاغلي رحماني زياته کړه، دا چې خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو ته د ډيپلومونو د ورکړې په برخه کې يو څه ځنډ موجود دی، نو دوی هم تر دې دمه خپلو فارغو محصلينو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي سرټيفيکټونه او ترانسکرېپټونه ورکړي دي څو يې له حقوقو او امتيازاتو گټه واخلي.

د نوموړي په وينا، دوی د خپلو محصلينو د علمي سويې د لا بډاينې په موخه پر يادو شوو اسانتياوو او خدمتونو سربېره ډېر علمي سمينارونه، ورکشاپونه او د عملي زده کړو پروگرامونه دايروي. د دې تر څنگ يې ډېر ټينگار پر څېړنيز مرکز هم کړی دی، چې په چوکاټ کې به يې محصلين د نظري زده کړو تر څنگ عملي زده کړې، کار او بازار ته لاسرسی ولري او د هغوی د درسي او کاري مهارتونو په برخه کې به لا ډېره وده او پرمختگ وکړي.

د فجرستان د لوړو زده کړو موسسې علمي معاون ښاغلي سميع رحماني همدا راز وويل، دوی د موسسې د لا بډاينې او پرمختگ لپاره خپل پنځه کلن ستراتېژيک پلان لري، چې په ۱۳۹۹ کال کې چمتو شوی او تر ۱۴۰۳ لمريز کال پورې به دوام وکړي. د نوموړي په وينا، د ياد پلان مهم ټکي يې د موسسې لپاره د خصوصي ودانۍ رغول او همدا راز ډېرې هغه کړنې چې د موسسې، محصلينو او په ټوله کې د ټولنې د پرمختگ او لاسته راوړنو لامل کېږي، يادونه کولی شي.

ښاغلي رحماني زياته کړه چې دوی له دولت او په ځانگړې توگه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي څو د لوړو زده کړو د خصوصي موسسو په برخه کې لا ډېره پاملرنه وکړي. د نوموړي په وينا، د لوړو زده کړو د خصوصي موسساتو لويې ستونزې د وضع شوو قوانينو، مقرراتو او اصولو په برخه کې دي چې ډېر کله يادو موسساتو ته سخت قوانين او مقررات وضع کېږي، تر ډېره پورې ورته پوره پاملرنه نه کېږي او هغه اداري چارې چې بايد پر وخت تر سره شي لکه د اسنادو وېش، د پوهنځيو د زياتولو جواز او داسې نور، له ځنډ او ځنډ سره مخ کېږي چې پر بنسټ يې يادې موسسې له ستونزو سره مخ وي او نه شي کولای چې خپلو چارو ته پر وخت رسيدگي وکړي.

همیانی

# نهه هغه کارونه چې ستاسې د خپگان لامل کیږي

احسان الله کریمي



کله کله موږ له نورو څخه د یو کار د کولو تمه لرو، یا دا چې چلند یې له موږ سره سم شي. په ځینو وختونو کې زموږ دا کړنه سهي ده سمه به وي، خو په ډېری وختونو کې دې شیانو ته خپل وخت ضایع کول، بې ځایه دي او ستاسې د ناهیلي کېدو سبب کیږي او له نورو سره زموږ اړیکو ته زیان رسوي. باید په دې وپوهیږو چې ټول شیان زموږ په کنټرول کې نه دي، له نورو باید دومره هیله ونه لرو چې زموږ له خوښې سره سم ټول کارونه تر سره کړي.

موږ په همدې مقاله کې درته ١٦ هغه کارونه ښیو چې که پرې کنټرول ونه لرئ او پرې یې نږدئ، هر وخت به له نور خپه او گوښه وئ:

**١ـ له نورو دومره تمه مه لرئ چې تل ستاسې له ټولو خبرو سره همغږي وي**

که له دې ډلې کسانو څخه یاست، چې نور خلک که هر څه وایي او تاسو یې ورسره منئ، دا مو تېروتنه ده. هر څوک خپل فکر او ځانته عقیده لري او دا کار مو بې ځایه دی چې که تاسو هر څه وایئ او یا هغه هرڅه وایي، تاسې یا هغه یې دې درسره ومني.

**٢- کله چې ملامت یاستئ، له نورو د قدر تمه مه کوئ**

انتظار مه کوئ چې نور له تاسو سره داسې چلند وکړي چې گواکې تاسې ارزښتمن کس یاست، هر انسان ستونزې لري، نو نه باید د هغو ستونزو په خاطر خپل ځان وځورو؛ بلکې د اصلاح لپاره یې هلې ځلې وکړو. کله چې درنه کومه تېروتنه وشوه، له نورو د قدر او بیا هم د ستاینې تمه مه لرئ، کوښښ وکړئ چې دا وخت ځان وهڅوئ او له ځان سره پرېکړه وکړئ چې بیا به درنه دا تېروتنه نه کیږي.

**٣- کله چې د خپل ځان احترام نه شئ کولی، له نورو خو بیخي دا تمه مه کوئ**

احترام لومړی له ځانه شروع کیږي، نو که غواړئ په ټولنه کې یو ښه او محترم شخص واوسئ، باید لومړی خپل ځان ته احترام ولرئ. که مو ځان ته په ښه سترگه ونه کتل او ځان تر نظر سپک او بې ارزښته درغی او یا مو په دغه سترگه ځان ته وکتل، نور خو به د باد ښکه درنه جوړه کړي. که مو ځان ته په ارزښت قایل شوئ، هغه ده چې نور به هم ارزښت درکړي. کوښښ وکړئ چې تر هرڅا دمخه خپل ځان ته ارزښت ورکړئ.

**۴- کله چې پر خپله غوښتنه نه پوهېږئ، له نورو یې دې په گوته کولو تمه مه لرئ**

که تاسو غواړئ چې په ژوند کې اعتبار ولرئ او د خپل زړه په غوښتنه عمل وکړئ، نو تاسو باید له نورو څخه دا تمه ونه لرئ چې تاسو څه غواړئ. ستاسې غوښتنې باید خپلې وي، نه داسې چې د نورو د غوښتنو پوره کولو لپاره کار کوئ. گوښې په یوه کوټه کې له ځان سره کښېنئ، خپل زړه ته غوږ ونیسئ او له هغه واورئ چې څه غواړي، بیا د هغه د تر لاسه کولو لپاره لاس پکار شئ.

**۵ ـ هېڅ وخت له ځان دا تمه مه کوئ چې تاسې دې د ټولو لپاره د خوښې وړ کس واوسئ**

ځینې کسان مو ژوند ته راځي او تر ډېره درسره پاتې کېږي، خو زیاتره بیا داسې کسان دي چې ژوند ته مو یوځل راځي او بیرته ژر ځي. پرېږدئ هغه کسان چې نه غواړي له تاسو سره واوسي، اجازه ورکړئ چې لاړ شي. په مخه یې ښه. هغه کسان چې له تاسو سره غواړي پاتې شي، هیڅکله مو په ښه او بده ورځ دواړو کې یوازې نه پرېږدي.

**٦- له نورو دا تمه مه کوئ چې وگوري تاسې دې څه په اړه فکر کوی**

کله چې نشی کولای خپل فکر مو بیان کړی، له نورو خو یې د بیانولو او یا دا چې تاسې د څه په اړه فکر کوی، بیخي تمه مه کوئ. کوښښ وکړئ چې د خپلو غوښتنو او موخو په اړه خپله فکر وکړئ، ځکه یوازینی کس چې ستاسې د غوښتنو پر پوره کولو او لاسته راوړلو ښه پوهېږي؛ هغه تاسې خپله یاستی، نو بیا څه اړتیا ده چې له نورو دا تمه ولری چې تاسې د څه په اړه فکر کوی او هغه تاسې ته څومره مهم دي.

**۷ - که د خپلو ستونزو پر حل کولو**

بریالي نه شی، له نورو یې د حل هېڅ تمه مه کوئ. هغه کسان چې ستاسې ستونزې ویني، اتیا سلنه پرې خوشالېږي او ۲۰ سلنه پرې خندا کوي؛ خو یوازینی کس چې د دې ستونزې د حل وړتیا لري، بیا هم یوازې تاسې یاستی، نو بیا څه اړتیا ده چې نورو ته د خپلو ستونزو په اړه ووایی.

**۸- کله چې ځان ته ښښنه نه شی کولی، له نورو خو یې بیخي تمه مه کوئ**

که له نورو د ښښنې هیله لری، خو خپل ځان نشی ښښلی، په هېڅ وخت به مو نور هم ونه ښښي. لومړی ځان وښښئ او بیا له نورو د ښښې تمه وکړئ.

**۹- له نورو دا تمه مه کوئ چې تاسو ته انگیزه درکړي**

هیڅوک نشي کولای تل تاسو وهڅوي، ممکن کله کله تاسو ډېر غمجن یاست، یو ملگری مو کولای شي ستاسو حالت بدل کړي، ولې هر وخت نشي کولای تاسو ته خوشالي در کړي، ځکه ژوند دومره مصروف دی چې ایله هرڅوک خپل بار تر منزله یوسي. خپله تاسو یاست چې د ځان لپاره مو موخې ټاکی او ورته د رسېدو هڅه به کوی.

# ابراهیم رییسي د اکثریت رایو په گټلو سره د ایران د نوي ولسمشر په توگه وټاکل شو



د راپورنو له مخې، په ایران کې د ولسمشرۍ ټاکنو تر رایو اچونې نږدې نهه ساعته وروسته د یاد هېواد د کورنیو چارو وزارت ابراهیم رییسي د ټاکنو گټونکی اعلان کړی دی. بلخوا تازه شمېرې ښیي، چې دا ځل په ټاکنو کې د خلکو گډون نږدې شل سلنه وو.

د ایران د کورنیو چارو وزارت ویلي، چې د دغه هېواد د ولسمشرۍ په ټاکنو کې ټولټال ۲۸ میلیون او ٦۰۰ زره کسانو کړی و. د شمېرل شویو رایو پربنسټ، رییسي تر اوسه ۱۷,۸ میلیون رایې گټلې دي، ورپسې محسن رضایي ۳,۳ میلیون او عبدالناصر همتي یو میلیون او ۳۰۰ زره رایې خپلې کړې دي. امیر حسین قاضي زاده یو میلیون رایې خپلې کړې دي.

که همدا په ټاکنو کې د خلکو د دقیق گډون شمېرې وي، نو د ټاکنو لپاره وړ ۴۸ سلنه کسانو رایې اچولې دي. د ټاکنو دریو نوماندانو او ولسمشر حسن روحاني ابراهیم رییسي ته د بریا مبارکي ویلې ده. د ایران ولسمشر حسن روحاني ابراهیم رییسي ته په ټاکنو کې د بریا د مبارکۍ لپاره د قضاییه قوې د مشر دفتر ته ورغلی دی. رییسي پرته له دې چې د قضاییه قوې له مشرۍ استعفا وکړي، د ولسمشرۍ ټاکنو نوماند و.

په ورته مهال په سیمه کې د خلکو او یو شمېر خبریالانو د راپورونو پر بنسټ، ویل کېږي چې د رایې ورکولو په مرکزونو کې گڼه گوڼه کمه وه او د خلکو گډون د پخوا په پرتله کم‌رنگه و. دا په داسې حال کې ده چې په وروستیو څو اونیو کې یو شمېر ایرانیانو او اصلاح غوښتونکو سمونپالو د دغه هېواد په ټاکنو کې له گډون سره په مخالفت پر خواله رسنیو د (رایه نه رایه) په نوم کمپاین پیل کړی و.

په دې دوره کې د اساسي قانون ساتونکې شورا د یو شمېر کاندیدانو صلاحیتونه رد کړل چې له امله یې ډېرو اصلاح غوښتونکو او گوندنو د خپلو نوماندانو له معرفي کولو ډډه وکړه. محسن رضایی میر قاید، ابراهیم رییسي، امیرحسین قاضي زاده هاشمي او عبدالناصر همتي په دغو ټاکنو کې تایید شوي نوماندان وو.

یادې ټاکنې په داسې حال کې تر سره شوې، چې ډېرو ایرانیانو د هېواد د خراب اقتصادي او سیاسي وضعیت له اړخه په لوړه کچه نارضایتي درلوده. د ایران ستر مذهبي مشر ایت الله خامنه‌یي چې د جمعې په سهار په تهران کې خپله رایه وکاروله، خلک یې وهڅول چې خپله رایه وکاروي. هغه وویل: «اړین او لازم کار تر هر څه د مخه تر سره کړئ او په لومړیو کې رای ورکړئ، په ټاکنو کې گډون د خلکو راتلونکې جوړوي او د راتلونکو څلورو کلونو برخلیک یې ټاکي».

له دې سره جوخت یادې ټاکنې د ډېرو ایرانیانو له نیوکو سره مخ دي. په تهران کې یو پېرېدونکي د فرانسې خبري اژانس ته ویلي: «که رایه ورکړو او یا نه، له وړاندې د هغوی د خوښې کس ټاکل شوی، ټاکنې د رسنیو لپاره تر سره کوي»

اقتصاد

د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۵۰ |
| € | ۹۳,۱۰ |
| Rp. | ۴۹۵ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۱۰۷,۵۰ |

بیړنی شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین

او حشمت الله نوري

**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

**چاپخونه:** وایگل چاپ

0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۳۰مه | د ۲۰۲۱ د جون ۲۰مه | ۷۳۵مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۳۳ | ۴۰ | ۳۵ | ٤١ | ۳۰ |
| ١٦ | ۲۲ | ۲۴ | ۲۵ | ٢٤ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۵ | لمر ختل ۰۴:۴۱ | ماسپښین ۱۱:۵۵ | مازیګر ۰۴:۵۸ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵۶

## نړۍ



# ابراهیم رییسي د اکثریت رایو په ګټلو سره د ایران د نوي ولسمشر په توګه وټاکل شو ۵

## وزارت خارجه: سخنان غیرواقعی مقام‌های پاکستانی برای روابط دوجانبه خوب نیست



وزارت امور خارجه در واکنش به اعلامیه اخیر وزارت خارجه پاکستان در مورد سخنان حمدالله محب، مشاور امنیت ملی کشور، گفته است که اظهار نظرهای غیرواقعی و دور از واقعیت مقام‌های این کشور به نفع روابط کابل و اسلام آباد نیست.

در اعلامیه وزارت امور خارجه آمده است: «با درنظرداشت حساسیت اوضاع و فرصت‌های پیش‌آمده برای رسیدن به یک صلح دایمی و پایدار در افغانستان و منطقه، اظهار نظرها و بیانیه‌های مکرر مقام‌های پاکستانی که این روند را صدمه بزند به نفع پروسه صلح نیست.»

وزارت امور خارجه پاکستان روز جمعه، با نشر اعلامیه‌ای اظهارات حمدالله محب، مشاور امنیت ملی را «بی‌اساس و غیرمنطقی» خواند. محب پاکستان را به حمایت از طالبان متهم کرد و گفته بود که شاه‌محمود قریشی، وزیر خارجه پاکستان، «نادان، ناآگاه و یا همدست» طالبان است. این سخنان در مورد افزایش خشونت‌های طالبان گفته شده است که به تازه‌گی شاه‌محمود قریشی گفته است که در مورد خشونت طالبان اغراق شده است.

وزارت امور خارجه افغانستان اما گفته است که ابراز نظرهایی که «غیرواقعی و بدور از حقیقت» است و روابط افغانستان و پاکستان را متضرر می کند.


در اعلامیه وزارت خارجه آمده است که خواست افغانستان و جامعه جهانی از دولت پاکستان این است که با استفاده از نفوذ و کنترلی که بر طالبان دارد، آن‌ها را برای انجام گفت‌وگوهای معنادار به میز مذاکره‌برگرداند.

## ملګرو ملتونو د برما کودتا غندلې او دغه هېواد ته يې د وسلو پر لېږد بندیز لګولی

ملګرو ملتونو په تازه اقدام کې د برما د وروستۍ پوځي کودتا د غندنې ترڅنګ یاد هېواد ته د وسلو پر لېږد بندیز ولګاوه. د ملګرو ملتونو غړو هېوادونو د انګ سان سوچي او نورو سیاسي بندیانو د خوشي کېدو غوښتنه هم وکړه او ویې ویل چې له بې حده زور کارولو او د لاریونوالو پر خلاف له زور زیاتي څخه باید لاس واخیستل شي.په داسې حال کې چې پرېکړه لیک الزامي نه دی، خو د برما پوځیانو ته یو سیاسي پیغام رسوي. په ملګرو ملتونو کې د اروپایي اتحادیې سفیر اولوف سکوګ وايي:«پرېکړه لیک د برما د پوځي مشرانو واک مشروع نه ګڼي، د خپل ولس پر وړاندې د دوی زور زیاتی غندي او څرګندوي چې دوی څومره د نړیوالو په سترګو کې منزوي دي؟» ۱۱۹ هېوادونو د دې پرېکړې لیک ملاتړ کړی، خو د چین او روسیې په ګډون ۳٦ هېوادونو له رایې ورکولو ډډه وکړه. په ملګرو ملتونو کې د برما سفیر کیاو موی تون چې د پوځیانو واک نه مني او اوس هم د پخوانۍ ملکي واکمنۍ استازیتوب کوي، هم د پرېکړه لیک ملاتړ کړی دی.

د پرېکړه لیک له تصویب وروسته د برما لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې کریستین شرانر بورګنر عمومي اسامبلۍ ته په وینا کې په برما کې د یوې پراخې کورنۍ جګړې د احتمال خبرداری ورکړ.

## راپورونه: د اروپايي ټولنې غړي هېوادونه پر بېلاروس د بندیزونو لګولو په برخه کې هوکړې ته رسېدلي



د راپورونو له مخې، د اروپايي ټولنې غړي هېوادونه پر بېلاروس د اقتصادي بندیزونو په برخه کې هوکړې ته رسېدلي دي.


د دغې ټولنې ډیپلوماتانو او دغه راز د اتریش د بهرنیو چارو وزارت ویلي، دا بندیزونه د بېلاروس د هغه اقدام پر وړاندې لګول کېږي، چې د راین ایر شرکت یوه الوتکه یې په زور د یاد هېواد په پلازمېنه مېنسک کې ښکته کېدو ته اړ کړې وه. دا په داسې حال کې ده چې تېره میاشت د دې کېنول شوې الوتکې له منځه د بېلاروس د رژیم مخالف فعال او خبریال ونیول شو. د اتریش د بهرنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، پر بېلاروس لګېدونکي اقتصادي بندیزونه د هغه هېواد ځینو اقداماتو ته یو ښکاره او هدفمند ځواب دی.

که د اروپايي ټولنې مشران د جون په ۲۵مه په پلان شوې غونډه کې دا بندیزونه تایید کړي، له بېلاروس سره به د صادراتو او وارداتو او بانکي معاملو پر چارو بندیزونه ولګول شي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې د بېلاروس د حکومت مخالفو مشرانو د دغه هېواد پر اوسني مشر اکساندر لوکاشینکا د سختو بندیزونو غوښتنه کړې وه. نوموړی تورن دی چې په ټاکنو کې يې لاسوهنه کړې او د جعل او زور له لارې ځان واک ته رسولی دی.

## ژوند


## انر د ګوګل په خدمتونو سمبال موبایل معرفي کړ



انر کمپنۍ له هواوې څخه تر جلا کېدو وروسته خپل لومړنی د ګوګل په خدمتونو سمبال ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړ. دغه ځیرک موبایل د جون په ۱٦مه نېټه معرفي شو. انر کمپنۍ تاییده کړې چې انر۵۰ لړۍ کې درې ځیرک موبایلونه چې انر۵۰، انر۵۰ پرو او انر۵۰ پرو پلس نومول شوي دي، شامل دي.

انر۵۰ او انر۵۰ پرو کې به د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۷۷۸جي ډوله پروسېسر او انر۵۰ پرو پلس کې به د کوالکام کمپنۍ تر ټولو پیاوړی پروسېسر، سنپ ډراګن۸۸۸، کارول شوي وي. دغه ځیرک موبایلونه به ۵۰ مېګاپکسله وړتیا لرونکي اصلي کامرې، ٦٫۷۹ انچه امولېډ ډوله ستره مخپاڼه او له ۱۲۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه د ملاتړ وړتیا ولري. د یادونې ده چې هواوې کمپنۍ د امریکا د بندیزونو له امله د ګوګل خدمتونه نشي کارولی، خو انر چې د هواوې جلا شوې څانګه ده، د مې په میاشت کې تاییده کړه چې د انر۵۰ لړۍ ځیرک موبایلونه به د ګوګل له خدمتونو سره وړاندې شي.

## د وریجو ډېر خوراک د شکر ناروغي پیدا کوي



که چېرته تاسې د وریجو مینوال یاست او هر وخت یې په شوق سره خورئ، نو باید دا خبره په غور کې ونیسئ چې د وریجو په ډېر استعمال سره بدن ډېره نشایسته تر لاسه کوي، چې خطرناک یې ګڼلی شو. د اسیایي هیوادونو د اوسیدونکو په اړه ویل کېږي، چې دوی د شکر پر ناروغۍ ډېر اخته کېږي او په دې سیمه کې د یادې ناروغۍ کچه ډېره ده، چې لوی لامل یې د نورو عادتونو تر څنګ د وریجو خوراک هم په ګوته شوی. روغتیایي کارپوهان وايي چې د وریجو استعمال د انسان د روغتیا لپاره ډېر خطرناک وي او په همدې سبب د انسان په بدن کې د شکر کچه لوړېږي او د وینې د شکر پر ناروغۍ یې اخته کوي. دوی وايي وریجې د شکر د ناروغۍ خطر تر یوولس سلنو پورې لوړوي. د یوې څېړنې له مخې ویل شوي چې یوه پیاله وریجې په هماغه اندازه کاربوهایډریټ لري، په کومه اندازه چې د کوکا کولا په یو کوټي کې وي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزيزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزيزي بانک
Azizi Bank